مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی

۲۰۱۹/۰۸/۲۵

# غزل

لمبه لمبه سوځېږم د کوډګر په تعویذونو
جنون یم ستي کړی د وحشت په سرو اورونو

په وینو لمبیدلي بیا د وینو باران غواړي
د بل په درد خوشال وي، کړي مستي په پرهرونو

په طمع د رڼا یې د تیارو په لار روان کړم
تیارو یم غورځولی زه مدام له ګرنګونو

جنون او حس د مینې مې له تنه دي ورک شوي
بې حسه لکه مړی د لحد یم په ګردونو

په ما څه کاني وشوې پسرلېه ته خبر یې؟
هم خپلو هم پردو یمه ځپلی په زخمونو

مصطفی پسرلی
24/08/2019



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ